**د افغـــــانستان اســـــلامي امـــارت**

**د ارشـــــاد، حج او اوقـــافو وزارت**

**د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست**

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**

**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.**

---

**۱۷/ جمادی الأول /۱۴۴۵ هـ، ق موافق د ۱۰ /قوس /۱۴۰۲هـ، ش**

# غوره اخلاق او د هغو دنیوي او اخروي ګټې

إن الحمد للَّه، نحمده، ونستعينه، ونستغفره، ونعوذ باللَّه من شرور أنفسنا، ومن سيئات أعمالنا، من يهده اللَّه فلا مُضلَّ له، ومن يُضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا اللَّه وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله صلى اللَّه عليه، وعلى آله وأصحابه، وسلَّم تسليماً كثيراً. أمّا بعد:

الله تعالی فرمایي : {وَإِنَّكَ لَعلى خُلُقٍ عَظِيمٍ} القلم : ٤

په غوره اخلاقو ځان سمبالول او غوره اخلاق په ځان کې پیدا کول د الله جل جلاله امر او د رسولانو د سردار حضرت محمد مصطفی -صلوات الله علیه وسلامه- صفت دی او د مؤمنانو د عملونو د تلو درنوونکی دی.

الله تعالی د خپل پیغمبر دغوره اخلاقو داسې صفت کړی دی. {وَإِنَّكَ لَعلى خُلُقٍ عَظِيمٍ} القلم : ٤

ترجمه:- او بیشکه چې ته یقیناً په ډیرو لویو اخلاقو باندې(فائز) یې،

په یو حدیث شریف کې د نبي علیه السلام عالي او غوره اخلاق داسې تشریح شوي دي:(عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ رضي الله عنها أَنَّ سَعْدَ بْنَ هِشَامٍ سَأَلَهَا فَقَالَ: يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ أَنْبِئِينِى عَنْ خُلُقِ رَسُولِ اللهِ -صلى الله عليه وسلم- .قَالَتْ أَلَيْسَ تَقْرَأُ الْقُرْآنَ ؟ قَالَ: بَلَى.قَالَتْ: فَإِنَّ خُلُقَ نَبِىِّ اللهِ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ الْقُرْآنَ). صحيح مسلم (٢/ ١٦٨)

ترجمه:- له ام المؤمنین عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې سعدبن هشام ورڅخه وپوښتل:ای ام المؤمنین د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خویونو په اړه معلومات راکړه. هغې په ځواب کې ووېل: ایا ته قرآن کریم نه لولې؟ هغه ورته ووېل: ولي نه. عائشې رضي الله عنها ووېل: چې قرآن وایي نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم خویونه همدا قرآن و.

په یو حدیث شریف کې راځي چې په ټولو خلکو کې د غوره اخلاقو خاوند حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ؤ .عن أنس بن مالك رضي الله عنه، قال : (كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْسَنَ النَّاسِ خُلُقًا). صحيح البخاري ت (١٥/ ٤٦٥)

ترجمه:- له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایي: پیغمبر صلی الله علیه وسلم د ټولو خلکو په پرتله د ډیرو غوره اخلاقو څښتن ؤ .

غوره اخلاق د خلکو ترمنځ مینه او محبت رامنځ ته کوي او دښمني له منځه وړي او اسلامي تاریخ ددې شاهد دی چې ډیری دښمنۍ د غوره اخلاقو په وجه په دوستۍ بدلې شوی دي، ددې وجې نه الله تعالی خپل حبیب ته د غوره

اخلاقو په خپلولو سره امر کړی دی او فرمايي : {وَلاَتَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلاَ السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيم} فصلت : ۳۴

ترجمه:- او نيکي او بدي هيڅکله سره نه برابريږي ته په هغې طريقې سره جواب ورکوه چې ترټولو ښه وي نو ناڅاپه به هغه کس چې ستا په مينځ کې او د هغه په مينځ کې دښمني وي داسې شي ګويا که هغه ستا ډېر مهربان دوست دی.

عفوه کول د غوره اخلاقو يوه بيلګه ده چې الله ورباندې امر کړی دی او الله تعالی د بدۍ دفع کول په نيکۍ سره د فرد او ټولنې ترمنځ د محبت او دوستۍ د پيدا کولو وسيله ګڼلې ده. الله تعالی فرمايي : {خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ} الأعراف: ۱۹۹

ترجمه:- ته معاف کول راونيسه (د عفوه کولو طريقه راخپله کړه) او د نيکۍ حکم کوه او دجاهلانو نه مخ وګرځوه.

د اسلام په نشر او دعوت کې غوره اخلاقو لويه ونډه درلودله . الله تعالی په دې اړه فرمايي:{فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لاَنفَضُّواْ مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ} آل عمران : ۱۵۹

ترجمه:- نو (يواځې) د الله د رحمت په سبب ته د دوی له پاره نرم يې او که چيرې ته بدخويه سخت زړی وې(نو) خامخا دوی به ستا له چاپيره نه خواره شوي ؤ ، نو دوی ته معافي کوه او ددوی لپاره بښنه غواړه.

د قهر او غوسي کنترولول د غوره اخلاقو هم يوه بيلګه ده چې الله تعالی ورته خلک ترغيب او تشويق کړي دي او فرمايي : {الَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي السَّرَّاء وَالضَّرَّاء وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ} آل عمران : ١٣٤

ترجمه:- هغه کسان چې انفاق کوی په اسانۍ او تنګۍ کې او خصوصا چې غوصې لره زغمونکي وي او خلکو ته معافي کوونکي وي او الله نيکي کوونکي خوښوي.

غوره اخلاق د دين اساس دی او د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د بعثت او رسالت مهمه برخه وه.

رسول کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: ( إنمَّا بُعَثْتُ لأتمَّمَ صَالِحِي الأخلاق ) الأدب المفرد للامام البخاری (ص: ٦١)

ترجمه:- بيشکه ليږل شوی يم زه ددې لپاره چې غوره اخلاق پوره کړم.

د غوره اخلاقو څښتنان رسول الله صلی الله عليه وسلم ته تر ټولو خلکو خوښ خلک ؤ او د قيامت په ورځ به د غوره اخلاقو خاوندان د نبي کريم صلی الله عليه وسلم مجلس تر نورو زيات نږدې وي او د بدو اخلاقو څښتنان نبي عليه السلام ته مبغوض ؤ او بده اخلاقه انسان به دقيامت په ورځ د نبي عليه السلام له مجلس څخه لرې وي. په حديث شريف کې راځي: (عن عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ ، عَنْ أَبِيهِ ، عَنْ جَدِّهِ ، أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ : أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَحَبِّكُمْ إِلَيَ وَأَقْرَبِكُمْ مِنِّي مَجْلِسًا يوْمَ الْقِيامَةِ ؟ فَسَكَتَ الْقَوْمُ، فَأَعَادَهَا مَرَّتَينِ أَوْ ثَلَاثًا، قَالَ الْقَوْمُ : نَعَمْ يا رَسُولَ اللهِ ! قَالَ : أَحْسَنُكُمْ خُلُقًا). مسند أحمد

ترجمه:- له عمرو بن شعيب د خپل دخپل پلار څخه روايت کوي ، هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : آيا تاسوته خبر درنکړم په هغه کس له تاسونه چې زما په وړاندې تر ټولو ډېر محبوب دی او د قيامت په ورځ د تاسو ټولونه د مجلس او ناستې پاستې له مخې ماته ډېر نږدې وي ؟ نو خلک ټول چپ شول اوهغه دا وينا دوه

يا درې ځله تكرار كړه، بيا خلكو وويل : هو اى د الله رسوله! موږته په هغه خبر راكړه . ويې فرمايل هغه چې د نيكو اخلاقو څښتن وي.

په يو بل حديث كې راځي: عَنْ جَابِرِبْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ : إِنَّ مِنْ أَحَبِّكُمْ إِلَىَّ وَأَقْرَبِكُمْ مِنِّى مَجْلِسًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَحَاسِنَكُمْ أَخْلاَقًا وَإِنَّ أَبْغَضَكُمْ إِلَىَّ وَأَبْعَدَكُمْ مِنِّى مَجْلِسًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ الثرَّثَارُونَ وَالْمُتَشَدِّقُونَ وَالْمُتَفَيْهِقُونَ. قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ قَدْ عَلِمْنَا الثرَّثَارُونَ وَالْمُتَشَدِّقُونَ فَمَا الْمُتَفَيْهِقُونَ ؟ قَالَ:الْمُتَكَبِّرُونَ). سنن الترمذي (٤/ ٣٧٠)

ترجمه:- جابربن عبد الله رضي الله عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم ووېل: ماته تر ټولو خوښ او په قيامت كې رانږدې هغه څوک دي چې ښه غوره اخلاق ولري. او تر ټولو ناخوښه او په قيامت كې راځخه لرې هغه خلک دي چې (ثَرْثَارُونَ: لاپې وهونكي) دي، (مُتَشَدِّقُونَ: خبرې لوېوونكي او پراخوونكي دي) او (مُتَفَيْهِقُونَ) وي ، هغوى وپوښتل: (ثَرْثَارُون، مُتَشَدِّقُون) خو مو وپېژندل ، دا (مُتَفَيْهِقُونَ) څوک دي؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم په ځواب كې ووېل:څوک چې كبرجن وي .

غوره اخلاق په اسلام كې دومره لويه مرتبه لري چې حتى انسان په غوره اخلاقو سره د روژې او د لمانځه درجې ته رسيږي.

(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:إِنَّ اللَّهَ لِيُبَلِّغُ الْعَبْدَ بِحُسْنِ الْخَلْقِ دَرَجَةَ الصَّوْمِ وَالصَّلاةِ) المستدرك (١/ ١٢٨)

ترجمه:- د ابو هريره رضي الله عنه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي بيشكه الله تعالى رسوي په غوره اخلاقو سره د روژې او لمانځه(نفلي لمونځ) درجې ته.

د كامل او پوره ايمان خاوند هغه څوک دى چې غوره اخلاق ولري. په حديث شريف كې راځي:(عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا وَخِيَارُكُمْ خِيَارُكُمْ لِنِسَائِهِمْ خُلُقًا ). أبو داود(٤/ ٣٥٤)، سنن الترمذي (٥/ ٩)

ترجمه:- ابو هريره رضي الله عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: د ايمان له پلوه كامل مؤمن هغه دى چې غوره اخلاق ولري ، او په تاسو كې ترټولو غوره هغه څوک دى چې له خپلو مېرمنو سره ښه چلند كوي د اخلاقو له پلوه.

په آخرت كې به د اعمالو درنده تله د هغه چا وي چې غوره اخلاق ولري. په حديث شريف كې راځې: ( عَنْ أَبِى الدَّرْدَاءِ رض أَنَّ النَّبِىَّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ : مَا من شَىْءٍ أَثْقَلُ فِي مِيزَانِ الْمُؤْمِنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ خُلُقٍ حَسَنٍ وَإِنَّ اللهَ لَيَبْغَضُ الْفَاحِشَ الْبَذِىءَ). رواه الترمذي.

ترجمه:- ابودرداء رضي الله عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم ووېل: د قيامت په ورځ د مېزان په تله كې تر ښه خوى هيڅ شى دروند نه دى. او الله جل جلاله پوچ خولى سړى نه خوښوي.

غوره اخلاق ښايست دى، ځكه هرانسان دوه ډوله ښايست لري يو د پوستكي او بدن ښايست او بل د اخلاقو ښايست چې دغوره اخلاقو ښايست د بدن د ظاهري ښايست په پرتله ډېر غوره او مهم دى.

غوره اخلاق د جنت دداخليدو سبب گرځي. عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: سُئِلَ رسول الله صلى الله عليه وسلم عَنْ أَكْثَرِ مَا يدْخِلُ النَّاسَ الْجَنَّةَ، فَقَالَ : تَقْوَي اللهِ، وَحُسْنُ الْخُلُقِ). سنن ابن ماجه -

ترجمه:- له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې ويې ويل : له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د هغو غوره عملونو په هکله پوښتنه وشوه چې خلک جنت ته داخلوي، نو ويې فرمايل د الله نه ويره او ښه خوی.

په جنت کې لوړه درجه به د هغه چا وي چې غوره اخلاق ولري. په يو حديث کې راځي: (عَنْ أَبِى أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ رض قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ -صلى الله عليه وسلم- أَنَا زَعِيمٌ بِبَيْتٍ فِي رَبَضِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الْمِرَاءَ وَإِنْ كَانَ مُحِقًّا وَبِبَيْتٍ فِي وَسَطِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الْكَذِبَ وَإِنْ كَانَ مَازِحًا وَبِبَيْتٍ فِي أَعْلَى الْجَنَّةِ لِمَنْ حَسَّنَ خُلُقَهُ). سنن أبى داود-ن (٤/ ٤٠٠)

ترجمه:- ابوامامه باهلي رضي الله عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم ووېل: څوک چې له جګړو لاس واخلي (که څه هم حق يې پر لوري وي) هغه ته د جنت شاوخوا د کور ضامن يم. او څوک چې له درواغوډډه وکړي (که څه هم په ټوکه وي)، هغه ته د جنت په منځ کې د کور ضامن يم.او څوک چې ښه خويه وي هغه ته د جنت په پورتنۍ برخه کې د کور ضامن يم.

په يو بل حديث کې راځي: (عن أبي ذر رضي الله عنه، عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال : اتَّقِ اللهِ حَيثُمَا كُنْتَ، وَأَتْبِعِ السَّيئَةَ الْحَسَنَةَ تَمْحُهَا، وَخَالِقِ النَّاسَ بِخُلُقٍ حَسَنٍ ). سنن الترمذي -

ترجمه:- ابوذر رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې پيغمبر عليه السلام وفرمايل : په هر ځای کې چې اوسې له الله څخه وېره کوه او په بد کار پسې ښه کار تر سره کوه، ترڅو هغه له منځه يوسي او د خلکو سره په نيکو اخلاقو سره ژوند کوه .

ښه اخلاق د ټولنې د استقامت او د خلکو ترمنځ د همغږۍ او ترحم لاره ده، نو يو له بل سره مينه او شفقت په رحمت او مهربانۍ منځ ته راځي او د خلکو ترمنځ احسان او ښيگڼه په غوره خوی او عادت او سخاوت پيدا کيږي، نو بايد يو او بل ته په رښتينو اخلاقو نصيحت وکړو. نو په مسلمان لازم دي چې ځان په ښايسته اخلاقو او خويونو سمبال کړی او خلکوته ښه خبره وکړي او څه چې د ځان لپاره خوښوي د نورو لپاره دې هم خوښ کړي، د ښو اخلاقو څښتن هيڅکله په نورو ملنډې نه وهي اونه چاته په سپکه سترگه گوري اونه ځان پرې لوی گڼي، بلکې له دوی سره گوزاره کوي او د دوی د آزار او رنځ په وړاندې له زغم څخه کار اخلي او د دوی له خطاگانو ورتيريږي او کمی يې بخښي او بدکارانو ته نصيحت کوي او هغوی د ښيگڼې لارې را بولي .

لنډه دا چې غوره اخلاق او ښه خوی د انسان د کمال او ښايست د فهرست لومړنۍ موضوع ده او ملتونه پرمختگ او ترقۍ ته نشي رسيدای مگر په ښو خويونو – لکه چې شاعر وايي:

انما الأمم الاخلاق ما بقيت        فان هم ذهبت اخلاقهم ذهبوا

يعنې حقيقت دا دی چې د ملتونو شتون د دوی په اخلاقو پورې تړلی دی. کله چې اخلاق د دوی له منځه ولاړ شي، نو دوی به هم له منځه ځي .

دهمدې وجی نه پیغمبر علیه السلام خپل اصحاب او ملګري په غورو اخلاقو روزل. په یو روایت کې راځي: عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ: آخِرُ مَا أَوْصَانِي بِهِ رَسُولُ اللهِ -صلى الله عليه وسلم- حِينَ وَضَعْتُ رِجْلِي فِي الْغَرْزِ أَنْ قَالَ: أَحْسِنْ خُلُقَكَ لِلنَّاسِ يَا مُعَاذُ بْنَ جَبَلٍ). موطأ مالك (٥/ ١٣٢٧)

ترجمه:- معاذبن جبل رضي الله عنه وايي: (یمن ته د روانېدو پروخت) چې مې پښې د آس په رکابونو کې وې، رسول الله صلی الله علیه وسلم وروستی وصیت داسې راته وکړ: ای معاذه ! له خلکو سره دې خوی او چلند ښه کړه.

غوره اخلاق په څو ټکو کې نه خلاصه کیږي بلکې هر هغه خوی او خصلت چې اسلامي شریعت غوره ګڼلی دی او خلک یې ورته دعوت کړي دي غوره اخلاق ګڼل کیږي، لکه پراښه تندی، دسلام نشرول، له خلکو سره په هر وخت کې مرسته او نیکي کول، د مور او پلار سره نیکي کول ، دخپلو خپلوانو سره صله رحمي پالل، د ګاونډیانو سره نیکه معامله کول ، خلکو ته د ضرر او تکلیف رسولو څخه ځان ساتل، خپل قهر او غوسه کنترولول، په مصیبتونو او عباداتو صبر کول ، خلک او خطاکار ته عفوه کول، سخاوت کول او د کونډې اړ یتیمانو خیال ساتل او له هغوی سره خصوصي مرسته کول. د خلکو په غم او خوشحالۍ کې شریکیدل او د خلکو څخه د سختیو په لرې کولو کې برخه اخیستل، هغه کارونه کول چې خیر او فائده یې هر انسان ته ورسیږي ، د ملګرو ، د کاریګرو سره احسان کول او ورسره نیکي کول او داسې نور.

### د غوره اخلاقو دنیوي او اخروي ګټې:

د غوره اخلاقو ځینې دنیوي او اخروي ګټې په پورتنۍ تفصیل کې صراحتاً او یا اشارةً ذکر شو، ددغو ګټو خلاصه او د غوره اخلاقو ځینې نورې ګټې په لاندې ډول دي:

١. پیغمبر صلی الله علیه وسلم تر ټولو غوره انسان او د بشپړو غوره اخلاقو څښتن ؤ.
٢. کامل او پوره مؤمن هغه دی چې اخلاق یې غوره وي .
٣. غوره اخلاق د ترقۍ او پرمختګ لاره ده .
٤. غوره اخلاق د انسان درجې لوړوي او هغه جنت ته داخلوي .
٥. د ښو خویونو څښتن به د قیامت په ورځ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره ملګری وي.
٦. غوره اخلاق انسان الله تعالی نږدې کوي او بد اخلاق انسان له الهي منهج څخه لرې باسي.
٧. د غوره اخلاقو خاوند سره الله تعالی محبت کوي.
٨. د غوره اخلاقو خاوند سره هرڅوک مینه کوي او درناوی یې کوي.
٩. غوره اخلاق د انسان د کامیابۍ او ترقۍ سبب ګرځي.
١٠. د غوره اخلاقو خاوند سره نبي علیه السلام محبت ساتي او دبدو اخلاقو خاوند سره نبي علیه السلام بغض کوي.
١١. غوره اخلاق د انسان په کرامت او غوره طبیعت باندې دلالت کوي.
١٢. په غوره اخلاقو سره دښمنان په دوستانو بدلیږي.
١٣. انسان په غوره اخلاقو سره د روژې او لمونځ درجه ترلاسه کوي.
١٤. غوره اخلاق د انسان ګناهونه ببښي او د الله تعالی ببښنه یې په برخه کیږي.

**۱۵.** په غوره اخلاقو سره په آخرت کې د اعمالو تله درنیږي.

**۱٦.** غوره اخلاق انسان جنت ته داخلوي.

**۱۷.** غوره اخلاق د فضیلت معیار دی او غوره اخلاق درلودل کامیابي ده.

**۱۸.** غوره اخلاقو د امتونو د پیشرفت سبب دی.

**۱۹.** غوره اخلاق د بدو اخلاقو په مقابل کې د سپر او ډال حیثیت لري.

**هغه کارونه چې د غوره اخلاقو په کسبولو او تقویه کولو کې مرسته کوي:**

**۱-** سالمه عقیده : ځوک چې سالمه عقیده ولري چې دشریعت موافق وي، داد انسان سره د غوره اخلاقو په کسبولو کې مرسته کوي.

**۲-** دعاء: دالله تعالی څخه د غوره اخلاقو غوښتنه د غوره اخلاقو له اسبابو څخه ده. لکه چې په حدیث شریف کې راځي: ((... اهدِني لأحسنِ الأخلاق، لا يهدي لأحسنِها إلَّا أنتَ، واصرف عنِّي سيِّئَها، لا يصرفُ عنِّي سيِّئَها إلَّا أنتَ...))؛ رواه مسلم

**۳-** مجاهده او کوښښ: د غوره اخلاقو دکسبولو په هدف کوښښ کولو او مجاهدې کولو سره غوره اخلاق ترلاسه کیږي او غوره اخلاق تقویه کیږي.

**۴-** د غوره اخلاقو په فوائدو او ګټو کې فکر کول، انسان غوره اخلاقو ته تشویقوي.

**۵-** د نفس سره محاسبه: که ځوک د ورځې په آخر کې له خپل نفس سره د غوره اخلاقو او بدو اخلاقو په اړه محاسبه وکړي او په بدو اخلاقو پښیمانه شي، کیدای شي چې په نفس کې یې د غوره اخلاقو سره مینه او محبت پیداشي او یا غوره اخلاق یې تقویه شي.

**٦-** لوړ همت اختیارول: لوړ همت اختیارول د غوره اخلاقو لامل ګرځي؛ ځکه چې بد اخلاق د ټیټ همت خاوندانو کار دی.

**۷-** د ژوند او بندګانو په مشکلاتو صبر کول او زغم کول په نفس کې د غوره اخلاقو د تقویت لامل ګرځي.

**۸-** عفت:د ناوړه،حرامو او خرابو کړنو څخه عفت اختیارول او ور څخه ځان ساتل په نفس کې د غوره اخلاقو د رامنځ ته کیدو سبب ګرځي.

**۹-** شجاعت : شجاعت د غوره اخلاقو لپاره بستر هواروي.

**۱۰-** نرم خوی اختیارول: نرم خوی غوره کول د غوره اخلاقو اساسي شرط ګڼل کیږي.

**۱۱-** عدالت : د ژوند په کړو وړو کې او هر حالت کې عدالت په نظر کې نیول او هغه رعایتول د غوره اخلاقو بنسټ تشکلیوي.

**۱۲-** چشم پوشي: د خلکو په ځینو زلاتو او لغزشونو چشم پوشي کول ، غوره اخلاقو ته لار هواروي.

**۱۳-** د جاهلانو څخه مخ اړول او اعراض کول ، په نفس کې غوره اخلاق تقویه کوي.

**۱۴-** د بدۍ په مقابل کې ښه کول او نورو ته عفوه او بخشش کول ، دغوره اخلاقو اساس دی.

**۱۵-** د خلکو څخه په کم ځیز راضي کیدل او د بالمثل مطالبې پریښودل ، د غوره اخلاقو په کسبولو کې مهم رول لري.